

د دې ماشومانو برخلاف چې په سرپل ولایت کې ښوونځی ته لاسرسی لري، ۱،۴۹۳،۰۴۳ ماشومان په افغانستان کې ښوونځی کې ندي او د زده کړې د ترلاسه کولو پر وړاندې له بېلابېلو خنډونو سره مخ دي. © IOM ۲۰۲۰

DTM AFGHANISTAN

# د ټولنې پر بنسټ د اړتیاوو ارزونه

## د پایلې لنډیز . یولسم پړاو
## جولای – ډسمبر ۲۰۲۰

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM) د ټولنې پر بنسټ د اړتیاوو ارزونه (CBNA) د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې (BMA) اساسي برخې په توګه په منظمه توګه په کال کې دوه ځله د کلیو په کچه ترسره کوي ترڅو په هغو کلیو کې چې تر ټولو زیاتو کورني بېځایه شویو او راستنېدونکو څخه کوربه توب کوي له څو سکټوریزو اړتیاوو څخه چې د تغییر په حال کې دي یو هر اړخیز پوهاوی رامنځ ته شي.

## کلیدي موندنې

- د وچکالۍ او سیلاب پر وړاندې زیانمن ولایاتو کې لکه غور، بادغیس، فراه، اورزګان او هلمند وګړي د خواړو د اخیستلو لپاره مارکېټ ته محدود لاسرسی لري او په خپله غنم کري. یاد ولایات د افغانستان ۲۰۲۱ کال احتمالي وچکالي پر وړاندې په شدیده توګه زیانمن دي. په یادو ولایاتو کې وګړي له پخوا په بېلابېلو مقابله ای میکانیزمونو باندې اتکأ کوي لکه له هغو خوراکي توکو څخه ګټه اخیستل چې لږ مغذي مواد لري، د خواړو لپاره پور اخیستل، د خواړو د اندازې کمول او په غور، بادغیس او فراه ولایتونو کې وګړي په اوسطه توګه یو ځل په اونۍ کې په یوې خوراکي وعده کې له خوراک څخه ډډه کول. د هېواد په کچه په اوسطه توګه کورنۍ شاوخوا خپل نیمايي عاید د خواړو لپاره مصرفوي او له همدې امله دا کورنۍ د هغو وختونو لپاره چې د خواړو د لا زیات نا خوندیتوب سره مخ کېږي د خوراکي توکو د اخیستلو لپاره پیسې په لاس کې نلري.
- د بېکارۍ لوړه کچه، په افغانستان کې غیر رسمي دندې او په کرنې استوار اقتصاد پورې اړه لري او په خاصه توګه په ښاري سیمو کې د کورنیو بېځایه شویو، راستنېدونکو او نورو متحرکو ډلو شتون کاري فرصتونه محدودوي، په ځانګړې توګه په زیات نفوس لرونکو ښارونو کې لکه هرات، کابل او جلال آباد. دا وخیم اقتصادي شرایط چې د کوویډ-۱۹ له امله لا زیات شدید شوي ایران، ترکیه او اروپا پلو د کډوالۍ لامل ګرځي.
- مرستندویه موسسې باید هغه سیمې په پام کې ولري چې تر ټولو زیات د جاري جګړې (ډېرۍ وخت شدیده جګړه) له امله زیانمنې شوي لکه په کندهار، بلخ، بغلان او وردک. د پورتنیو ولایاتو د کلیدي معلومات ورکوونکو په وینا دا ولایات تر ټولو زیات نا امن دي او د شخړو او آفاتو له امله زیانمن شوي او تر ټولو زیاتې امنیتي او د مرګ ژوبلې پېښې هلته ثبت شوي. په دې ولایاتو کې ۹۵٪ ثبت شوې مرګ ژوبله د جګړو له امله ده.
- د کوویډ-۱۹ مشابه اعراض او علایم په ټول هېواد کې په لوړه کچه شتون لري چې دا په خپله د کوویډ-۱۹ لا زیاتو آزمایښتونو او د عفونت مخنیوي او کنټرول تګلارو زیاتولو ته اړتیا ښیي. د روغتیایي ظرفیتونو لوړولو ته په عمومي توګه اړتیا لیدل کېږي په خاصه توګه په هغو سیمو کې چې له پخوا د خدماتو له کموالي او بې حده زیات ګټه ګوښې سره مخ دي لکه کندهار ولایت. د پام وړ اقلیت د ناروغ کېدلو پر مهال روغتیایي ځانګو ته مراجعه نه کوي چې دا په خپله د خلکو ترمنځ د باور پیاوړي کولو اړتیا ښیي.

## لنډه کتنه

**۳۴** ولایتونه وارزول شول

**۴۰۱** ولسوالۍ وارزول شوې

**۱۲،۵۹۶** کلي چې له کورنیو بېځایه شویو او راستنېدوونکو کوربه توب کوي وارزول شول

**۷۲،۲۹۰**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۴،۱۹۶،۸۷۸**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۲۰]

**۴،۹۳۷،۲۷۷**
کورني بېځایه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۲۰]

**۵،۲۲۵،۵۷۶**
وګړو د خپلو اصلي سیمې د کورنیو بېځایه شویو په توګه پرېښې [۲۰۱۲-۲۰۲۰]

**۵،۷۶۶،۹۴۱**
پخواني کورني بېځایه شوي اوس خپلو سیمو ته بېرته ستانه شوي[۲۰۱۲-۲۰۲۰]

**۳،۰۲۲،۸۸۹**
وګړي د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۲۰]

**۱۵،۴۷۹،۷۸۸** (۷۲٪)
۱۸ کلن څخه لوی وګړي بیکار دي

**۳۶،۷۲۵ افغانۍ**
د کورنیو د پور اوسطه کچه

**۸,۲۷۰,۷۱۶** (۲۰٪)
وګړي روغتیایي خدماتو ته مراجعه نکوي

**۱۸,۱۳۷,۳۵۴** (۴۴٪)
وګړي د څښاک اوبو ته نیازمن دي

**۸,۰۳۴** (۶۴٪)
کلیو د ارزونې څخه مخکې ۶ میاشتو په ترڅ کې هېڅ ډول بشري یا پراختیایي مرستې نه دي ترلاسه کړې

**۱,۱۸۵,۱۲۶** (۳٪)
وګړي لږ تر لږه یو ډول زیانمنتیا یا معلولیت لري

**۱،۴۹۳،۰۴۳** (۲۷٪)
ماشومان ښوونځی کې ندي

## تکلار

د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې (BMA) نهمې دورې را په دې خوا د ټولنې پر بنسټ د اړتیاوو ارزونه (CBNA) هم د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې یو سټندرد برخې په توګه شامله شوه. د ټولنې پر بنسټ د اړتیاوو ارزونه (CBNA) د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې سره یوشان تګلار څخه کار اخلي او هماغه ټولنې چې تر ټولو زیات کورنیو بېځایه شویو او راستنېدونکو څخه کوربه توب کوي د پوښښ لاندې نیسي.

د ټولنې پر بنسټ د اړتیاوو ارزونې (CBNA) عمومي موخه د پروګرامونو او خدماتو د لومړیتوب ورکولو لپاره بنسټیز معلومات راټولول او د جغرافیایي موقعیتونو پوښښ دی ترڅو د ټولنیز-اقتصادي شاخصونو خلاصه آمار وړاندې کړي لکه: دنده یا شغل، د کورنیو مالي وضعیت، مارکېټونه، امنیت او خوندیتوب، د قانون حاکمیت، روغتیا، زده کړه، خواړه او تغذیه، پناه ځای، اوبه، حفظ الصحه او روغتیا (WASH) او وړاندې شوې مرستې.

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM) د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې په شان د ټولنې پر بنسټ د اړتیاوو ارزونې (CBNA) کې هم ساحوي کارکوونکي په لوړه کچه له هماغې سیمې څخه ګماري چې هلته ارزونه ترسره کېږي ترڅو کمیتي معلومات د کلیو په کچه د کلیدي معلوماتو ورکوونکو سره د ډله ایزو بحثونو له لارې راټول شي. د ټولنې پر بنسټ د اړتیاوو ارزونې اوسنۍ فورمه په یو کلي کې له۲ تر ۳ ساعته وخت نیسي.

ساحوي کارکوونکي هره ورځ د یوې کاغذي فورمې په وسیله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجود معلوماتو له شتون څخه تایید وشي او د ارزونې پروسه په ګړندیتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړې شوې فورمې هره اونۍ د DTM ولایتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټیم مشر او د معلوماتو راجستر کوونکي له لوري تر‌ې کتنه او تصویب وشي. کله چې دا فورمې تایید شوې نو د موبایلونو په مرسته په الکترونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقیم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې ده ځای پرځای کېږي. وروسته بیا دا ډېټا یا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفیه او تایید کېږي. دا دقیقه بیاکتنه ډاډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا ترټولو لوړ کیفیت، دقت او صداقت ولري.

د کډوالۍ نړیوال سازمان او نړیوال بانک د همکارۍ له لارې به د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM) او یاد بانک په منظمه توګه د ټولنې پر بنسټ د اړتیاوو ارزونې (CBNA) لاسته راغلي معلومات په ګډه سره تجزیه او تحلیل کړي ترڅو د هېواد او ولایت په کچې عملي معلومات رامنځ ته شي او د ملي انکشافي پروګرامونو لومړیتوب ورکولو لپاره مرسته ترسره شي.

## پوښښ

په یولسمې دوره کې د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM) وکولای شو ۷۲،۲۹۰ د ټولنې مشرانو سره په ۱۲،۵۹۶ د موخې وړ کلیو کې چې د کورني بېځایه شویو او راستنېدونکو کوربه دي ترسره کړي. د دې ارزونې پوښښ د بنسټیزې ارزونې پوښښ څخه ۴ کلي لږ دی: فراه (۱)، هرات (۱)، پنجشیر (۱) او تخار (۱).

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM) د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې او د ټولنې پر بنسټ د اړتیاوو ارزونې ترڅنګ د کووېډ-۱۹ پر وړاندې غبرګون کې یې هم ونډه درلوده او د کووېډ-۱۹ اړوند د ټولنو وګړو د مشارکت او د خطرونو په اړه د پوهاوي رامنځ ته کولو لپاره یې د ټولنې مشران هڅول ترڅو د عفونت د مخنیوي او کنټرول تګلارې پلي شي او د کلیو په کچه د کووېډ-۱۹ اړوند نا سم معلومات او پېغورونه/ شرم پر وړاندې مقابله وشي.

د کووېډ-۱۹ د خپرېدو څخه د مخنیوي لپاره او د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم د کارکوونکو، کډوالو جمعیتونو او کوربه ټولنې د خوندیتوب لپاره د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم د عفونت د مخنیوي او کنټرول تګلارې عملي کولې او د روغتیا نړیوال سازمان د لارښودنو سره سم یې شخصي محافظتي توکي کارول.

| ولایت | د وروستۍ ارزونې نېټه | ولسوالۍ | ارزول شوې ولسوالۍ | ارزول شوي کلي | کلیدي معلومات ورکوونکي چې ورسره مرکه شوې |
|---|---|---|---|---|---|
| اورزګان | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۷ | ۷ | ۱۰۴ | ۵۸۲ |
| بادغیس | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۷ | ۷ | ۲۹۳ | ۲،۰۹۶ |
| بامیان | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۷ | ۷ | ۲۰۱ | ۱،۲۵۲ |
| بدخشان | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۲۸ | ۲۸ | ۸۸۷ | ۶،۲۴۰ |
| بغلان | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱۵ | ۱۵ | ۵۶۲ | ۳،۵۲۱ |
| بلخ | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱۶ | ۱۶ | ۶۴۶ | ۳،۴۴۰ |
| پروان | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱۰ | ۱۰ | ۳۹۸ | ۲،۳۷۰ |
| پکتیا | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱۱ | ۱۱ | ۴۱۷ | ۱،۷۴۷ |
| پکتیکا | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱۹ | ۱۹ | ۲۸۹ | ۱،۳۶۵ |
| پنجشېر | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۷ | ۷ | ۱۰۵ | ۷۵۸ |
| تخار | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱۷ | ۱۷ | ۵۵۸ | ۴،۰۱۹ |
| جوزجان | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱۱ | ۱۱ | ۳۳۳ | ۱،۹۷۷ |
| خوست | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱۳ | ۱۳ | ۵۸۵ | ۳،۱۶۴ |
| دایکندي | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۹ | ۹ | ۲۰۲ | ۱،۲۹۸ |
| زابل | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱۱ | ۱۱ | ۳۹۰ | ۲،۱۷۹ |
| سرپل | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۷ | ۷ | ۲۸۹ | ۱،۸۶۳ |
| سمنګان | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۷ | ۷ | ۲۲۷ | ۱،۲۲۲ |
| غزني | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱۹ | ۱۹ | ۴۰۲ | ۱،۷۶۷ |
| غور | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱۰ | ۱۰ | ۲۸۴ | ۱،۵۰۶ |
| فاریاب | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱۴ | ۱۴ | ۲۹۱ | ۱،۴۱۸ |
| فراه | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱۱ | ۱۱ | ۳۸۳ | ۲،۰۸۵ |
| کابل | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱۵ | ۱۵ | ۵۵۵ | ۲،۹۶۲ |
| کاپیسا | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۷ | ۷ | ۱۶۶ | ۹۵۰ |
| کندز | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۷ | ۷ | ۳۱۶ | ۱،۹۰۶ |
| کندهار | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱۶ | ۱۶ | ۳۹۴ | ۲،۰۷۳ |
| کنړ | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱۵ | ۱۵ | ۳۶۰ | ۲،۰۰۰ |
| لغمان | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۵ | ۵ | ۲۱۳ | ۱،۱۶۶ |
| لوګر | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۷ | ۷ | ۳۷۷ | ۱،۶۶۹ |
| ننګرهار | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۲۲ | ۲۲ | ۹۱۱ | ۵،۲۶۸ |
| نورستان | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۸ | ۸ | ۴۷ | ۲۲۶ |
| نیمروز | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۵ | ۵ | ۲۹۴ | ۱،۸۸۹ |
| هرات | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱۶ | ۱۶ | ۶۰۱ | ۳،۴۹۵ |
| هلمند | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۱۳ | ۱۳ | ۲۹۱ | ۱،۲۲۸ |
| وردک | ۲۰۲۰/۱۲/۳۱ | ۹ | ۹ | ۲۲۵ | ۱،۵۸۹ |
| مجموعه | | ۴۰۱ | ۴۰۱ | ۱۲,۵۹۶ | ۷۲،۲۹۰ |

## کلیدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کارکوونکي د کلیو په کچه معلومات د ټولنې مشرانو، کورنیو بېځایه شویو، راستنېدونکو، د ولاسوالۍ مقام، د ټولنې پراختیایي شورا او د روغتیا او زده کړې سکټورونو له استازو څخه د ډله ایزو بحثونو له لارې راټولوي. په لږو مواردو کې داسې کېږي چې د امنیتي اندېښنو او یا د بلواګرو ډلو د بریدونو له امله، د DTM سیمه ایز کارکوونکي نشي کولای سیمې ته ولاړ شي نو هغوي غونډې او ډله ایز بحثونه د کلیو څخه بهر یا په خوندیو سیمو کې ترسره کوي.

**۷۲،۲۹۰**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۸،۷۸۶**
کلیدي معلومات ورکوونکي یا راستنیدونکي دي او یا هم کورني بېځایه شوي (۱۲٪)

**۲،۴۵۹**
ښځینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۳٪)

**۱۷،۵۴۷**
له کوربه ټولنو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۲۴٪)

**۶۹،۸۳۱**
نارینه کلیدي معلومات ورکوونکي (۹۷٪)

**۲۳،۷۹۶**
څو سکټوریز او ټولنیزو خدماتو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۳۳٪)


**۵,۷**
په هرې ډله ایزې مرکې کې د کلیدي معلومات ورکوونکو اوسط شمېر

**۱۹،۴۳۱**
له سیمه ایزو چارواکو څخه کلیدي معلومات ورکوونکي (۲۷٪)

# جمعیتی معلومات


د کلیدي معلومات ورکوونکو په وینا د مرګ ژوبلې شمېر په هغو ولایاتو کې تر ټولو لوړ ده چې پراخه ښاري ساحه لري او همدا رنګه هغه ولایات چې د جاري یا فعالې جګړې له امله اغیزمن دي. جګړه، کورونو ته لاسرسی او طبیعي آفات هغه اصلي لاملونه دي چې خلک له نورو ځاینونو نه (په لوړه کچه د کورنیو بېځایه شویو په توګه) کوربه ټولنو ته راځي. خدماتو ته لاسرسی لکه دنده، زده کړه، شخړه او روغتیایي پاملرنه تر ټولو اړین لاملونه دي چې وګړي خپل اصلي ځای پرېږدي او نورو ځایونو ته کډه کوي او دا کار تر ټولو زیات په وردک، کندهار، تخار او زابل ولایاتو کې تر ټولو زیات ثبت شوی.

مرګ ژوبله | د ولایت او عمر پر بنسټ





یوې میاشتې څخه زیاتې مودې لپاره د وګړو د راتګ او اسکان لاملونه | د ارزښت پر بنسټ رتبه بندي شوي

ارزښت (شمېر=١٢٬٣٧٤) ٠= د پلي کېدو وړ نده ؛ ١= ډېر بې ارزښته؛ ٢= بی ارزښته؛ ٣= لږ ارزښتناک؛ ٤= ارزښتناک؛ ٥= ډېر ارزښتناک





د یوې میاشتې څخه زیاتې مودې لپاره د سیمې پرېښودلو لاملونه | د ارزښت پر بنسټ رتبه بندي

ارزښت (شمېر=١٢٬٤٥٠) ٠= د پلي کېدو وړ نده ؛ ١= ډېر بې ارزښته؛ ٢= بی ارزښته؛ ٣= لږ ارزښتناک؛ ٤= ارزښتناک؛ ٥= ډېر ارزښتناک





د تذکره درلودلو تر ټولو لوړ شمېر په هغو ولایاتو کې ثبت شوی چې د دولت د کنټرول لاندې دي او تر ټولو ټیټ شمېر یې په لرې پرتو او له شخړې څخه زیانمنو ولایاتو کې ثبت شوي. د کلیدي معلومات ورکوونکو په وینا تر ټولو زیات شمېر زیانمن کسان په هغو ولایاتو کې اوسېږي چې پراخ ښاري مرکزونه لري لکه کابل، ننګرهار او بلخ.

تذکره | د ولایت پر بنسټ




زیانمنتیا






١٧٦،٢٧٩ وګړي په افغانستان کې د دې بابا په شان چې په جوزجان ولایت کې دی په لاره تګ کې ستونځې لري او د عاید ترلاسه کولو لپاره پر نورو تکیه کوي. © IOM ٢٠٢٠


# دنده یا شغل

په ټول هیواد کې ٪۷۲ له ۱۸ کلن څخه لوی ټول وګړي او ٪۵۶ له ۱۸ کلن څخه لوی نارینه ګان بیکار دي. کنړ، لغمان او لوګر کې تر ټولو نورو ولایتو د بیکارۍ لوړ شمېر ثبت شوی. هغه ولایات چې د بېکارۍ ټیټ شمېر لري لرې پراته، کلیوالي او نسبتاً کم نفوس لرونکي ولایات دي لکه جوزجان او نورستان. لامل یې ښایي د دې ولایاتو کم نفوس، او د غیر میکانیزه کرنیز اقتصاد لپاره یې کارګرو ته زیاته اړتیا وي.

د بېکارۍ ارقام (+۱۸) | د ولایت او جنسیت پر بنسټ





شغلي وضعیت | نارینه ګان (له ۱۸ کلونو لوی)





په کاري ساحه کې د ماشومانو او زاړو شمولیت د بیلابېلو ولایتو ترمنځ توپیر کوي. په فاریاب ولایت کې ٪۸۳ ماشومان او زاړه په کار بوخت دي. دا سلنه بیا په پنجشېر (٪۱)، لغمان (٪۱۰) او نورستان (٪۱۰) کې ټیټه ده. دا چې له پخوا کاري تجربې درلودل او له صاحب د کار سره پخوانۍ اړیکې درلودل، ځواني او د سواد لوړه کچه د هیواد په کچه د دندې ترلاسه کولو لپاره لومړیتوبونه بلل کېږي دا موارد په هغو ولایاتو کې زیات ثبت شوي ول چې پراخې ښاري سیمې لري.

د قراردادونو ډول





د کارکوونکو د استخدام لپاره د ترجیح ورکولو موارد | د اهمیت پر بنسټ رتبه بندي شوي

ارزښت (شمېر=۱۲٬۵۹۶) ۰= د پلي کېدو وړ نده ؛ ۱= ډېر بې ارزښته؛ ۲= بی ارزښته؛ ۳= لږ ارزښتناک؛ ۴= ارزښتناک؛ ۵= ډېر ارزښتناک





د کار یا دندې پر وړاندې خنډونه | د ارزښت پر بنسټ رتبه بندي شوي

ارزښت (شمېر=۱۲٬۵۹۶) ۰= د پلي کېدو وړ نده ؛ ۱= ډېر بې ارزښته؛ ۲= بی ارزښته؛ ۳= لږ ارزښتناک؛ ۴= ارزښتناک؛ ۵= ډېر ارزښتناک




د حرفه ای زده کړو پروګرامونو شتون




## مالي او دارايي


لـه ۱۵٪ څخـه لـږ شـمېر افغانان پـه توليـدي او خدماتي اقتصادي سـکټورونو کې پـه کار کولو بوخـت دي چـې دا پـه خپلـه د افغانسـتان اتـکاً پـر کرهنيز يا زراعتي سـکټور ښـيي. د کورنيو اوسـط عايـد کچـه پـه کنـدز، هلمنـد، فارياب او کابـل کـې تـر ټولو لـوړه ده چـې سرحـدي سـوداګري تـه لاسرسـی او پـه غيـر رسـمي اقتصاد کـې شـموليت پـه دې اړه د پـام وړ دي. لږښـتونه يـا مصارف پـه جنـګ ځپلـي ولاياتـو کـې لکـه پکتيـکا، پنجشـير او خوسـت تـر ټولو لـوړ دي. پـه بيلابيلـو سـيمو کـې د عايـد اوسـطي کچې ترمنځ تر ټولـو زيات توپير په وردک ولايت او ورپسـي کنـړ کې ليـدل کېږي. د ۴۸٪ کورنيـو خالص عايد د خوارو په اخيسـتلو کې مصرفېږي او دا لـوړ لږښـتونه تـر ټولو زيات په لـړي پرتو ولاياتـو کې لکه پنجشـير (۷۳٪) او نيمـروز (۶۸٪) کـې ثبـت شـوي خـو بيـا پـه کابـل (۲۹٪) کې تـر ټولو ټيټ وه.

کليـدي معلومـات ورکوونکـو يادونـه وکـړه چې له ۲ ميليـون څخه زياتي کورنـۍ پوروړي دي او د پـور اوسـطه کچـه يـې ۳۶،۸۳۱ افغانـۍ ويلـی دی. پور يو له اصلي لاملونو څخه دی چې وګړي د ښځايـه کېـدو (هـم د هـواد دننه او هـم هېواد څخـه د باندې) پرېکړه کـوي. د پور تـر ټولـو لـوړه اوسـطه کچـه په لـړي پرتـو او هغو ولاياتـو کې ليدل کېږي چې پراخـه کليوالي سـيمه لـري لکـه دايکنـدی، باميـان او غزنـي چـې پـه هېـواد کـې تـر ټولو زيـات بـې وځله يا فقيـر ولايات ګڼـل کېږي.


عایداتي سرچیني | د ولایت پر بنسټ





د پوروړیو کورنیو شمېر | د ولایت پر بنسټ




د کورنیو میاشتنی عاید او لږښت او د هغوی مجموعي قرضداری | د ولایت پر بنسټ





د کورنیو میاشتني لږښتونو اوسطه کچه | د کټګوریو په بنسټ




# مارکېټونه

د هېواد په کچه ټولنې په اوسطه توګه عموماً وړو هټیو او د سړک غاړې لاس ګاډي ته لاسرسی لري. د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم مارکېټ ته د لاسرسي اړوند د بېلابېلو ولایاتو تر منځ توپیرونه وموندل. بدخشان، لوګر، فاریاب او کابل مارکېټونو ته تر ټولو نورو ولایاتو زیات لاسرسی لري ځکه چې دا ولایات یا لویو سرحدي موقعیتونو سره او یا هم د ښار مرکزونو سره ارتباط لري. په لړې پرتو ولایاتو کې لکه نیمروز، غور، پکتیا، کندز او نورستان کې مارکېټونو ته لاسرسی تر ټولو نورو ولایاتو لږ دی. مارکېټ ته د مېرمنو لاسرسي په پنجشېر، سرپل، لغمان او فاریاب ولایاتو کې تر ټولو نورو ولایاتو زیاته ده او په نا امنو او دوداېزو ولایتو کې لکه نورستان، اورزګان او پکتیکا کې تر ټولو لږ ده.


اوړه، بوره، وریجې او غوړي عموماً د لاسرسي وړ دي خو ترکاري، غوښه، د چرګ غوښه او هګۍ یوازې ځینې وخت د لاسرسي وړ دي. د غوړیو، وریجو او اوړو بیه د کلیو د ارزونې دریو میاشتې مخکې په ترخ کې تقریباً په ټولو ولایاتو کې زیاته شوې. که څه هم د تیل/ ګاز بیه په ۸۰٪ څخه زیات ارزول شویو کلیو کې راټیټه شوې وه چې شاید لامل یې کووېډ-۱۹ وي.


















سوداګریزي سیمې لکه په کندهار ولایت کې چې دا هټۍ ده د کووېډ-۱۹ د خطرونو په هکله د پوهاوي پیغامونو او موادو د ویشلو لپاره ډېرې مناسبې دي. © IOM ۲۰۲۰


# امنیت او خوندیتوب

له ارزونې څخه تېرو ۶ میاشتو په ترڅ کې ۷۳٪ راپور شوې امنیتي پېښې سر بېره پر ۹۳٪ مرګ ژوبلې د وسله والو جګړو له امله رامنځ ته شوې چې دا سلنه د تېرې دورې ډېټا په پرتله چې په ترتیب سره ۶۳٪ او ۸۸٪ وه زیاتوالی ښیي. دا زیاتوالی په هېواد کې د جګړو دوام ته اشاره کوي. تړولو شایع امنیتي پېښې وسله واله جګړې او په تعقیب یې اخاذي او ساده ماینونه وي. سیلابونه، شدید باران/باد، وچکالي او زلزله تر ټولو عامې طبیعي پېښې ثبت شوې دي.





د ۲۰۲۰ کال له جولای تر ډسمبر میاشتې پورې په غزني ولایت کې ۱،۶۲۹ امنیتي پېښې رامنځ ته شوي او د ۱۲۶ وګړو مرګ ژوبلې لامل شوي. © IOM ۲۰۲۰


# ټولنيز پيوستون

د تېرې دورې ۴۵٪ کلیدي معلومات ورکوونکو په پرتله کم شمېر (۴۲٪) کلیدي معلومات ورکوونکو د عدالت پر سیستم اعتبار درلود. د اعتبار تر ټولو لوړه کچه په نیمروز (۱۰۰٪) او په تعقیب یې پنجشیر (۹۸٪) او پروان (۸۹٪) کې وه. جنګ ځپلي ولایاتو کې لکه کندز (۰٪)، پکتیکا (۱٪) او زابل (۱٪) کې وګړو په عدالت سیستم باندې تر ټولو لږ اعتبار درلوده. په ۳۶٪ ارزول شویو کلیو کې وګړو د کور څخه د باندې فعالیتونو د ترسره کولو لپاره د خوندیتوب احساس درلوده چې دا کار په خپله د وګړو تحرک محدودوي او خدماتو ته د لاسرسي نه درلودلو لامل ګرځي، په خاصه توګه مېرمنې په نا متناسبه توګه له دې کار څخه زیانمنې کېږي.


په هغه ځایونو کې چې د تولني د وګړو ترمنځ بې باوري رامنځ ته کېږي(تعداد=۹۹۵)، ډېرې وخت د کورنیو بېځایه شویو، راستنېدونکو او د کوربه تولني غړو او همدا راز د بزګرو او شپانو ترمنځ ثبت شوي. دا بې باوري او نښتي ډېرې وخت ځینې سرچینو ته لکه ځمکه، اوبه او کار یا هم تاریخي موضوعاتو اړوند لاسرسي پورې ارتباط لري. ۶۱٪ کلیدي معلومات ورکوونکو ذکر کړ چې دا دول نښتي ډېرې وخت فزیکي شخړو ته اوړي.

د کلیو دننه نښتي ډېرې وخت د سیمي وګړو منځګړیتوب، محکمې او یا هم د کورنیو د منځګړیتوب له لارې حل کېږي.


د شخړو د حل لپاره منځګړیتوب | د ولایت پر بنسټ





د کور څخه د باندې په ورځني فعالیتونو کې د امنیت احساس درلودل




بې باوري/ د بېلابېلو ډلو تر منځ بې باوري | شمېر=۱۲,۵۹۶




په تولنه کې د عدالت سیستم باندې باور | د ولایت پر بنسټ








د تولني پر بنسټ شورا ګانې، لکه دا د تولني مشران په بادغیس ولایت کې د تولني دننه او یا د تولنو ترمنځ د شخړو د حلولو لپاره منځګړیتوب کوي. IOM © ۲۰۲۰


# روغتیا


د ارزونې پایلې ښیي چې د کووېډ-۱۹ په شان اعراض او علایم لکه تبه (۲۸٪ واقعات)، نس ناستی (۲۳٪ واقعات) او تنفسي عفونت (۲۱٪ واقعات) او په لوړه کچه راپور شوي دي چې دا په خپله د عفونت د مخنیوي او کنترول لپاره د ټولني پر بنسټ تکلاروو ته اړتیا ښیي. که څه هم د تنفسي عفونت واقعات له ۲۴٪ څخه ۲۱٪ ته راښکته شوي. یوازې په ۱۹٪ ارزول شویو کلیو کې کلینیک شتون لري خو په بیلابیلو ولایاتو کې توپیرونه شته. په کندهار ولایت کې تر ټولو نږدې روغتیایي مرکز په اوسطه توګه ۱۶ کیلومتره واټن لري چې تر ټولو نورو ولایاتو شدید وضعیت کې دی او هلته اساسي روغتیایي پاملرنو ته لاسرسی ډېر ستونزمن دی.


له نیمایي څخه زیات د روغتیایي خدماتو وړاندې کوونکي اولیه مرستې، د درملو خدمات، ارجعت، د غیر بستري ناروغانو خدمات او معافیت یا واکسین خدمات وړاندې کوي. که څه هم ۲۰٪ ارزول شوي کلي تر ټولو نږدې روغتیایي کلینیکونو ته د ناروغې په وخت کې مراجعه نه کوي چې د دې کسانو سلنه په جوزجان کې ۴۳٪ او پروان کې ۴۲٪ ده او ډېرۍ وخت د درمل د خراب کیفیت او د کارکوونکو ضعف یې لامل بلل کېږي. د ښځینه روغتیایي کارکوونکو کموالی د روغتیایي خدماتو د ترلاسه کولو لپاره تر ټولو لوی خنډ بلل کېږي.





# تحصیلات

روغتیایي ځانګو ته د لاسرسي په شان ښوونځیو ته لاسرسی هم په بېلابېلو ولایاتو کې توپیر لري. که څه هم زیات نفوس لرونکي ښاري سیمو کې په ډېر احتمال روزنیزې ځانګې شتون لري. د سیمو زیات نفوس د دې لامل کېږي چې په هره روزنیزه ودانۍ کې لوړ شمېر زده کوونکي په سبق بوخت وي. هلمند ولایت په اوسط توګه د هر ۳،۸۹۳ د ښوونځي عمر لرونکي ماشوم لپاره یوازې یو ښوونځی لري که څه هم نیمروز ولایت کې تر ټولو په پوښښ ده ځکه چې هلته د هر ۲۷۸ ماشوم لپاره یوه ښوونځی شتون لري. د هغو ماشومانو شمېر چې ښوونځیو ته نه ځي په کندهار، ننګرهار او بادغیس ولایاتو کې تر ټولو نورو ولایاتو لوړ دی.


د لوړو زده کړو په کچه روزنې لکه حرفه ای یا تخنیکي روزنې، د سواد زده کړې یا لیک لوست روزنه او پوهنتونونه په ښاري سیمو کې، په خاصه توګه کابل کې تر نورو ځایونو زیات دي.

دا په خپله د بې وځلو کورنیو لخوا زده کړې ته غوښتنه نه کېدل او په روزنیزو ځانګو کې د درسي موادو نشتون ته اشاره کوي. د زده کړې پر وړاندې تر ټولو لوی خنډونه دي چې یا ماشومان مجبور دي کار وکړي ترڅو له خپلو کورنیو څخه ملاتړ وکولای شي یا دا چې ښوونځی لرې دي.


موجودې تحصیلي ځانګې





تحصیلات | د ولایت پر بنسټ





د هغو ماشومانو شمېر چې ښوونځي ته نه ځي | د ولایت پر بنسټ




د زده کړې پر وړاندې خنډونه | د ارزښت پر بنسټ رتبه بندي شوي




په تېرو شپږو میاشتو کې د هغو ورځو اوسط شمېر چې ښوونځي تړلي/وړاني/ نیول شوي وي | شمېر = ۴،۴۶۳




# غذا و تغذیه

دا چې احتمال لیدل کېږي چې افغانستان به د ۲۰۲۱ کال په اوږدو کې وچکالۍ تجربه کړي، د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم به د خپل معلومات راټولول او وچکالۍ اړوند شاخصونو ملاحظه او راپور ته ادامه ورکوي. جګړو او طبیعي آفاتو پر وړاندې د افغانستان زیانمنتیا ډېرۍ وخت د خوراړو د نا خوندیتوب لامل کېږي. په پایله کې د خوارړو کموالی او غذایي تنوع کموالی منځ ته راځي. غلجات، غوړي/ کوچ او بوره هره ورځ مصرفېږي. غوښه او میوه جات چې د پروتین او مغذي موادو سرچینې دي په اوسطه توګه په اونۍ کې یو ځل په مصرف رسېږي. سبزیجات او حبوبات په اونۍ کې دوه ځله په مصرف رسېږي.

غنم چې د وچې ډوډې اساسي ماده ده او هر ورځ خوړل کېږي ډېرۍ وخت په محلي مارکېټونو کې اخیستل کېږي (۴۰٪) یا هم کرل کېږي (۳۴٪). بادغیس او په تعقیب اې اورزګان، غور، فراه او هلمند هغه ولایات دي چې وګړي د غنمو پېرودلو پر ځای د غنمو په کرلو زیات اتکأ کوي او دا ولایات د فصلي وچکالي او سیلابونو پر وړاندې تر ټولو زیانمن دي. د زراعتي موادو نشتون لکه تخم، کیمیاوی مواد، کرهنیزه ځمکه، وسایل، اوبه او ځینې نور مسایل لکه بې وځلي او جګړې په خاصه توګه په فراه، پروان، وردک او زابل ولایاتو کې د خوارړو تولید محدود کړی.

د خوراکي توکو کموالي له امله کورنۍ ډېرۍ وخت په منفي مقابله ای میکانیزمونو باندې اتکأ کوي. تر ټول عام مقابله ای میکانیزم په هغو خوراکي توکو اتکأ کول ویل شوي چې په عمومي توګه د خوښې وړ ندي. د خوارړو پور اخیستل تر ټولو زیات په کنړ او وروسته بیا په نورستان ولایاتو کې ثبت شوي. په یوې غذایي وعده کې له خوراک څخه ډډه کول تر تولو شدید مقابله ای میکانیزم دی چې ثبت شوی او تر ټولو زیاتې کورنۍ په سمنګان، تخار او بغلان ولایاتو کې پر دې میکانیزم اتکأ کوي.

د غنمو/اوړو/ وچې ډوډې د لاسته راوړلو لارې | د ولایت پر بنسټ




د خوراکي توکو د تولید پر وړاندې خنډونه | د ارزښت پر بنسټ رتبه بندي شوي


ارزښت (شمېر=۱۱,۲۵۰) ۰= د پلي کېدو وړ نده ؛ ۱= ډېر بې ارزښته؛ ۲= بې ارزښته؛ ۳= لږ ارزښتناک؛ ۴= ارزښتناک؛ ۵= ډېر ارزښتناک






په لوګر ولایت کې د منو حاصلات په افتخار سره د بزګرو لخوا وړاندې شوي. د دې سربېره چې د افغانستان اقتصاد په کرنې استوار دی بیا هم د هېواد د اړتیاوو د پوره کېدو لپاره له بهرنیو هېوادونو څخه په وارداتو اتکأ کېږي.© IOM ۲۰۲۰


په ورځ کې د خوارړو خوراک ځل | د سني او جنسیتي ډلو پر بنسټ




غذایي تنوع | په اونۍ کې د هر ډول خوارړو مصرف کول




د خوارړو اړوند مقابلې میکانیزم





# سرپناه


پـه ټـول هیـواد کـې ٨٣٪ کورنـۍ پـه خټینـو کورونو کې اوسـېږي چـې دا کورونـه ډېري وخت د طبیعـي آفتونـو پـر وړانـدې مقاومـت نلـري. د ټـول هیـواد نفـوس څخـه لـه ١٪ کـم وګړي چې عموماً کـورنۍ بېځایه شـوي دي پـه خیمه یـا آزاده فضا کې ژوند کوي. دا کـورنۍ بېځایه شـوي پـه لـوړه کچـه پـه جګـړه ځپلـو ولایاتـو کـې لکـه کنـدهـار، بادغیـس او اورزګان کـې اوسـېږي. پـه یـادو ولایاتـو کـې پـه ترتیب سره ١١٪، ۵٪ او ٢٪ کورنـۍ یـا پـه خیمـه او یا هم آزاده فضـا کـې ژونـد کوي.


د پام وړ شـمېر کورنـۍ پـه پـروان (٣٨٪)، سرپـل (٣٨٪)، وردک (٣۶٪)، جوزجـان (٢۶٪) او فـراه (٢٢٪) ولایاتـو کـې پـه شـدیده توګـه د جګـړې او طبیعـي پېښـو لـه املـه زیانمـن شـوي او پـه داسـې کورونـو کـې اوسېږي چـې یـا پـه بشـپړه توګـه وران شـوي او یـا هم په شـدیده توګـه ویجاړ شـوي.

د زیانمـنـو کورونـو سربېـره د کورونـو د کرایـې لـوړه بیه هم یـو له اړینو مواردو څخه ده چې لـه املـه يې زیـات شـمېر کورنـۍ کورونـو یـا پناه ځای ته لاسرسـی نلـري. د ارزونـې څخه ۶ میاشـتو مخکـې پـه ترڅ کـې ۶٠٪ کورنۍ په پـروان، ۴٩٪ پـه کندهار او ۴۵٪ پـه سرپل ولایاتو کـې نشـو کولای چې د خپل د کور کرایه ورکړي.







په جوزجان ولایت کې د دې کورونو په شان په ټول افغانستان کې ٢٢٪ کورونه یا په بشپړه توګه وران شوي او یا هم په شدیده توګه ویجاړ شوي. ٢٠٢٠ IOM ©

# اوبه حفظ الصحه او روغتيايي اقدامات


۴۴٪ کورنۍ د څښاک او زراعت لپاره اوبو کموالی راپور شوی چې دا سلنه د تېرې دورې سلنې (۳۳٪) په پرتله زياتوالی ښيي. هغه ولايت چې د څښاک اوبو تر ټولو زيات کموالي سره مخ دی هغه زابل ولايت دی او د دې ولايت ۷۰٪ نفوس د څښاک اوبو ته کافي لاسرسی نلري. هغه ولايات چې د بېلابېلو مقاصدو لپاره د اوبو کموالي سره مخ دي عبارت دي له نيمروز او وريسې سمنګان، زابل، پروان او فراه چې هلته د کليو مشرانو د بېلابېلو موخو لپاره د اوبو کموالی ذکر کړی.

۷۴٪ وګړي خونديي بيت الخلا ته لاسرسی نلري. په نورستان (۱۰۰٪)، پروان (۹۹٪) او جوزجان (۹۷٪) کې حفظ الصحوي تسهيلاتو يا آسانتياوو ته تر ټولو زياتي اړتياوي ليدل کېږي. له هر ۴ کسانو څخه ۱ کس په آزاده فضا کې رفع حاجت کوي. د هغه کسانو له ډلې چې حفظ الصحوي وداينو يا بيت الخلا ته لاسرسی لري نيمايي څخه زيات يې له کنارب څخه کار اخلي.


د څښاک اوبو سرچيني | د کټه اخيستني پر بنسټ





د بيت الخلا ډولونه | د ولايت پر بنسټ





د اوبو اړوند ستونځې | د کليو شمېر پر اساس




د اوبو سرچينو ته نيازمن وګړي | د ولايت پر بنسټ




هغه کورنۍ چې خونديي او حفظ الصحوي بيت الخلا ته لاسرسی نلري | د ولايت پر بنسټ




# رفاهي خدمات

۹۱٪ کورنیو د کور د ګرمولو سرچینو په توګه لرګي/ د لرګیو سکاره یا خوشایي/ کثافات یا د مړو خاروپو او بوټو د بدن غړي ښوځول ویلي. که څه هم ۲۲٪ کورنۍ ملي یا منطقوي برق ته لاسرسی لري او ۹٪ کورنۍ له مشترک سولر یا لمریزې انرژي څخه ګټه اخلي، په خاصه توګه دایکندي (۹۵٪)، پکتیکا (۹۵٪)، او لوګر (۹۴٪). ارزول شویو کلیو راپور ورکړ چې د برق پرچوي په اوسط توګه ۱۲ ورځې په میاشت کې او په ورځ کې یو ساعت څخه زیات دی او د تېرې دورې معلوماتو (۱۱ ورځې په میاشت کې) په پرتله زیاتوالی ښیي.

که څه هم ۷۲٪ کورنۍ موبایل لري، ۲۶٪ وګړو راپور ورکړ چې په خپلو کلیو کې د موبایل آنتن یا شبکې ته اې لاسرسی نه درلوده. په نورستان ولایت کې مخابراتي آنتن یا شبکې ته لاسرسی تر ټولو خراب دی او هلته ۷۶٪ کورنۍ د ټیلیفون شبکې یا آنتن ته هېڅ لاسرسی نلري او هېڅوک په دې ولایت کې انټرنټ ته لاسرسی نلري.


د کور ګرمولو سرچیني | د ولایت او کورنیو د ګټه اخیستني پر بنسټ






۱۸،۱۳۷،۳۵۴ وګړي په افغانستان کې د څښاک خوندي اوبو ته لاسرسی نلري. لکه دا کلي چې په جوزجان ولایت کې دی، تولني ډېرې وخت د نا خوندي او نا پاکو اوبو سرچینو څخه د اوبو اخیستلو ته اړ کېږي. © IOM ۲۰۲۰

عامه برق ته لاسرسی | د کورنیو د ګټه اخیستني پر اساس





هغه کورنۍ چې د ټیلیفون شبکه یا آنتن ته لاسرسی نلري | د ولایت پر بنسټ




# مرستي

۳۴٪ ارزول شویو کلیو څرګنده کړه چې د ارزونې څخه ۶ میاشتو مخکې په ترخ کې یې مرستې ترلاسه کړې وې چې دا سلنه دې تېرې دورې سلنې (۳۰٪) په پرتله زیاتوالی ښیي. مرستې ډېرې وخت د خوړو وېشل (۳۳٪)، بنسټیزې یا زیربنایي پاګونې (۱۳٪) او حفظ الصحوي توکي (۱۱٪) ویل شوي دي. په زابل او خوست ولایاتو کې له ۸۰٪ څخه زیاتو ټولنو راپور ورکړ چې هېڅ مرستې یې ندي ترلاسه کړي.


بشري/ انکشافي مرستې | د ولایت پر بنسټ




د هغو مرستو ډولونه چې د تېرو ۶ میاشتو په ترخ کې وړاندې شوي




د هغو مرستو ډولونه چې د تېرو شپږو میاشتو په ترخ کې وړاندې شوي | د ولایت پر بنسټ





© ۲۰۲۰ د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)

د لا زیاتو معلوماتو لپاره او د نقشو، ډیټاسټ او ډاشبورډونو لپاره www.displacement.iom.int/afghanistan ته مراجعه وکړئ.


مونږ سره په اړیکه کې شئ

facebook.com/iomafghanistan
DTMAfghanistan@iom.int
instagram.com/iomafghanistan
twitter.com/iomafghanistan


په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي:
د اروپا اتحادیه
کډه بودجه په وسیله
تمویل شوی
United Nations CERF Central Emergency Response Fund
Supported by: AHF Afghanistan Humanitarian Fund
german humanitarian assistance
From the People of Japan
UKaid from the British people





۴ لومړنۍ عایداتي سرچینې او ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + کورني بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ





د لویانو د بیکاري کچه او ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + کورني بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ





مارکېټونوته لاسرسی نه درلودل او ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + کورني بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ





د ولسوالی پر بنسټ د جګړو اړوند پېښې او مرګ ژوبله





د ۲ ساعتو په واټن کې کلینیک ته لاسرسی نه درلودل او ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + کورني بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ





هغه ماشومان چې ښوونځي ته نه ځي او ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + کورنۍ بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ





د غنمو نا کافي محصولات او او ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + کورني بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ




د کور د کرایه ورکولو توان نه درلودل او تولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + کورني بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ



د کافي حفظ الصحي نشتون او ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + کورني بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ




د ټليفون يا د ټيليفون د شبکې يا آنتن نشتون او ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + کورني بېځايه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ